شیر محمد اميني ستانکزی ۲۰۱۹/۰۴/۲۴

# په نوي کال کې باید د سولې لپاره هڅې ګړندی کړو!

پسرلی د طبیعت ښکلاوو ته رنګینې جامې ورآغوندي، د انسان روح او روان ته سکون ورپه برخه کوي، د ژمي په موسم کې د خدای (ج) مخلوقات چې په دغه دربیو میاشتو کې په خوب بیده ول، راویښوي او د پخوا په څېر خپل ژوند ته دوام ورکوي .

داچې په افغانستان کې د سپرلي موسم ته ډېری وګړي خوښ برېښي او د یو نوي پلان په جوړولو خپلې چارې سموي او په همدې توګه د خپل ژوند د چارو دپرمخ بیولو لپاره هلې ځلې کوي، چې د خپلې کورنی د سمبالښت لپاره هراړخیزی کړنې په لاره واچوي .

له دې پرته هر وګړی په دې هڅه کې دی، چې دخپل هیواد دسمسورتیا او رغوونې لپاره نیالګې کېږدي، چې د هیواد هره سیمه ښکلې او زرغونه شي او راتلونکي نسل ته نه یوازې دخپل لاس نښنه پرېږدي، بلکې د میوه لرونکو ونو بېلابېلې میوې ورته د ډالې په توګه پرېږدي .

همدارنګه هیوادوال په رغنیزو چارو بوختیا داهغه څه بللی شو، چې ولسونه نور له جګړو ستړي شوي او دهیواد د آبادی لپاره ملا وتړي او دګران افغانستان د پرمختګ لپاره هڅې وکړي، چې دبریالیتوبونو لوړو پوړو ته ځانونه ورسوي ، چې هغه یوازې سوله ده.

د هیواد په اوسنیو حالاتو کې د سپرلي موسم چې د ناامنیو او جګړو پیلامه ده، ډېری وګړي ناخوښ په دې دي، چې یو ځل بیا د دولت مخالفې ډلې ورانکاریو او جګړو ته زوړ؛ ورکوي او د خلکو ژوند له ګواښونو او ناندریو سره مخ کوي، خو بیا هم ولس د ناچاریو له کبله د لوی ښتن تعالی په تکل خپلو ورځنیو چارو ته دوام ورکوي .

ولې دافغانانو لپاره هیڅ کوم لوري دا نه انګېري، چې د دوی ژوند دې له خطره لرې وي او په یوه باامنه سیمه کې ژوند وکړي .

ددې لپاره چې په هیواد کې دهرافغان ژوند خوندي او پرمختګ وي، نو مخالفې ډلې دې په افغانستان کې د تلپاتې سولې لپاره تکل وکړي او پیل دې په اوربندوکړي، ځکه په جګړه کې هیڅ بریا نشي تر لاسه کولی، بلکې دبریا لوړو پوړ ته رسېدل؛ یوازې دخبرو او ملي مصلحتونوله لارې شوني دي اوبس .

د افغانستان حالات هم ډېر پېچلي او خطرناک دي، هره غلطه پرېکړه افغانستان له لویو ناورینونو سره مخامخ کوي. مکار دښمن تیار په کمین کې ناست دی او زموږ له بې اتفاقی ناوړه ګټه پورته کوي، ملت باید د دغه مکار دښمن د ناوړو پلانونو له منځه وړلو ته ځیر وي .

شرایط غوښتنه کوي ،چې ټول مسایل دې په ژوره او علمي ډول و څېړل او د حالاتو په ژوری څېړنې او مطالعې سره لازم تصامیم ونیول شي.

که زموږ ناچاره ژوند همداسې په ناندریزو وختونو کې تېرېږي، خو دا په یاد ولرئ، چې تاریخ به نوي نسل ته دا هر څه ولیکي، چې هغه وخت به خدای مه کړه اوسنی بې پیروایی راتلونکي نسل ته د پیغور په توګه پرېږدي، حال داچې موږ د ویاړنو ډک او زرین تاریخ لرو او باید ټل د ملت ویاړنې دتاریخ په زرینو کرښو ولیکل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

راځئ؛ سږني کال کې ټول ولس دسولې لپاره هڅې ګړندی کړو، په خپلو سیمو، بانډو او آن د هېواد په کچه غښتلي اقدامات وکړو،چې دبهرنيو او تاریخي دښمنانو له ناوړو دسیسو خلاصی پیدا کړو او دبین الافغاني جرګو له لارې خپلمنځي کړکېچونو ته دپای ټکی کېږدو. څنګه چې دپسرلني په زرغون موسم کې خپلو کروندو لپاره کار کوو، همداسې یو څه وخت دهېواد ملي مسایلو ته هم وقف کړو او دهیواد د آبادۍ او ښیرازۍ لپاره ګډه مبارزه وکړو.
نو دابه زموږ دکړنو پایلې ژر تر ژره بریالیتوبونو ورسوي او په هېواد کې به هرکال دپسرلي ښکلي موسمونو ته خوښي په جشنونو او یوالي سره ټول هېوادوال ولمانځي.
د دې ورځې په هیله!
تربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من یو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ